Lillestrøm kommune

# د لیلستروم په وړکتونونو کې د ماشومانو د بلدتیا په اړه میندو او پلرونو ته معلومات

## مبارک مو شه چې ماشوم ته مو د لیلستروم په ښاروالۍ کې په یو وړکتون  کې ځای ورکړل شوی دی!

د وړکتون پیلول د ماشومانو او لویانو لپاره په زړه پورې وخت دی.

د مور او پلار په توګه، دا اړینه ده چې تاسو په دې پوه شئ چې په وړکتون کې د ماشوم د بلدتیا پر مهال له وړکتون څخه څه تمه لرلای شئ او په دې هم پوه شئ چې تاسو پخپله څه کولای شئ تر څو ماشوم مو وړکتون په ښه او خوندي توګه پیل کړي.

په دې مالوماتي رساله کې په وړکتون کې د ماشوم د بلدتیا په اړه د وړکتون د کړنو او د مېندو او پلرونو لپاره لارښوونې او معلومات شتون لري.




# په وړکتونونو کې د باکیفیته بلدتیا لپاره پلان!

د لیلستروم ښاروالي په وړکتونونو کې د ماشومانو د با کیفیته بلدتیا لپاره یو پلان لري، چې د ښاروالۍ اړونده ټول وړکتونونه یې په پلي کولو مکلف دي. یاد پلان د خصوصي وړکتونونو لپاره هم د لاس رسي وړ دی. په مختلفو وړکتونونو کې به د یاد پلان د تطبیق په بهیر کې سیمه ییز بدلونونه راوستل کیږي. د
وړکتونونو د پیل په رانږدې کېدو سره به هر وړکتون په جلا توګه مېندو او پلرونو ته په دې اړه لا زیات معلومات وړاندې کړي.

په وړکتونونو کې د ماشومانو د باکیفیته بلدتیا لپاره پلان، د تړاو او بلدتیا په اړه د څېړنې له مخې رامنځته او د خوندیتوب د دایرې (Circle of Security) او یوتو موډل (Jåttå-modellen) د تیورۍ پر بنسټ جوړ شوی دی. په دې اړه به نور معلومات د والدینو په غونډه کې وړاندې شي.



## په وړکتون کې د ماشوم د بلدتيا د بهير په تړاو مېندو او پلرونه ته وړانديزونه:

- د نويو مېندو او پلرونو لپاره د والدينو غونډه
- د بلدتيا د بهير او د ياد بهير د بنسټ په اړه معلومات

- **د وړکتون له پيل څخه مخکې له وړکتون څخه د ليدنې ورځې**
- وړکتونونه ماشومانو او د هغوی مېندو او پلرونو ته د دې فرصت برابروي چې د وړکتون له پيل څخه مخکې له وړکتون څخه ليدنه وکړي تر څو له سيمې او د وړکتون له کارکوونکو سره آشنا شي.

- **په وړکتون کې د بلدتيا په اړه د تعليمي چارو له مشر/مشرې (pedagogisk leder) سره خبرې اترې**
- د وړکتون له پيل څخه مخکې خبرې اترې ترسره کيږي چې وړکتون د ماشوم او د ماشوم د کورنۍ په اړه معلومات ترلاسه کړي تر څو دوی وکولای شي چې په وړکتون کې د ماشوم د ښې بلدتيا لپاره آسانتياوې برابرې کړي.

- **د تعليمي چارو له مشر/مشرې سره د پيل په اړه خبرې اترې**
- د وړکتون له پيلولو څخه ۲-۶ اونۍ وروسته له مېندو او پلرونو سره خبرې اترې ترسره کيږي. د يادو خبرو اترو موخه دا ده چې د وړکتون کارکوونکي او مېندې او پلرونه له يو بل سره په وړکتون کې د ماشوم د بلدتيا د بهير په اړه خپلې تجربې شريکې او لا ښې او دوامدارې همکارۍ ته لاره هواره کړي.



# په وړکتون کې د ښه پیل لپاره مېندو او پلرونو ته مشورې

د وړکتون په پیل کې، مور او پلار د ماشوم تر ټولو مهم ملاتړي دي. دوی کولای شي له ماشوم سره مرسته وکړي چې وړکتون په ښه او خوندي توګه پیل کړي.

کوچني ماشومان له نړۍ سره ځان د مور او پلار د غبرګونونو (عکس العملونو) او بدني حرکاتو ته د کتلو له لارې آشنا کوي. له همدې امله، دا مهمه د چې مېندې او پلرونه په دې اړه د ماشوم په پوهولو کې مرسته وکړي، چې وړکتون یو خوندي ځای دی چیرې چې دوی کولای شي لوبې وکړي، د معلوماتو په ترلاسه کولو پسې لټه وکړي او له نورو لویانو سره یو ځای وخت تیر کړي.



# مېندو او پلرونو ته لارښوونې

- د وړکتون له کاري ساعتونو څخه وروسته مو له ماشوم سره د وړکتون له باندنۍ ساحې څخه لیدنه وکړئ
- مخکې له دې چې ماشوم وړکتون پیل کړي، د خوړو له بکسک (مات بوکس)، د اوبو څښلو د بوتل او بکس سره یې بلد کړئ
- د دې لپاره چې ماشوم ځان خوندي احساس کړي، له ځانه سره دې چوشک، له توکر څخه جوړ شوی حیوان ، د لوبو خرسک (bamse) یا ورته شیان راوړي.
- په ټاکل شویو ورځو کې له وړکتون څخه لیدنه وکړئ
- د نویو مېندو او پلرونو لپاره په جوړو شویو غونډو کې ګډون وکړئ



- په وړکتون کې د ماشوم د بلدتیا لپاره لږ تر لږه پنځه ورځې  په پام کې ونیسئ
- که ژباړونکي (ترجمان) ته اړتیا لرئ، په دې اړه وړکتون ته خبر ورکړئ
- د بلدتیا په ورځو کې یوازې مور یا پلار کولای شي له ماشوم سره یو ځای وي
- مخکې له دې چې ماشوم وړکتون ته راشي، کوښښ وکړئ چې ماشوم مو ورځ په آرامۍ سره پیل کړي
- کوښښ وکړئ چې د بلدتیا په موده کې مو په کور کې له غرمې وروسته کراري وي
- د وړکتون له کارکوونکو سره د هر ډول پوښتنو په هکله اړیکه نیولای شئ



Pashto

Grafisk printsenter rådhuset 06.2024